

# د اقلیم بدلون




## سره میاشت
## په هر ځای کې د هر چا لپاره


د اړیکې شمېره: ۰۷۰۶۷۵۰۱۹۹

پست بکس: ۰۰۷-۳۸-۱۰۰۲۰۸

پته: افغانستان، کابل، پینځمه ناحیه، سیلو افشار،

د افغاني سرې میاشتې مرکزي دفتر

www.arcs.af ir@arcs.af

@arcsafghanistan


## د ستر بدلونو لپاره تیاری:

یوه علمي قاعده ده، چې مخنیوی تر درملنې ارزانه او آسانه ده، چې یاده قاعده دلته هم کارولی شو، مخکې له دې چې د اقلیم بدلون مو د مرګ کومې ته ورسوي پکار ده، چې د مخنیوي لپاره یې لاس په کار شو، د اقلیمي بدلون حجم ته په کتلو سره، چې د ژوند په ټولو اړخونو باندې ناوړه اغېزې لري پکار ده، چې په لوړه کچه چمتو والی او د بدلون په مقابل کې د خپل له اقتصاد او ټولنیز حالت سره سم صمود او کلک والی ولرو، په دې هکله د حکومتي چارواکو دنده هم ده، چې په پراخه کچه یې مخنیوی وکړي، لکه په هغو سیمو کې چې واورې ښویېدلو یا برف کوچ یا غره ښویېدنې خطرونه وي سړکونه وپوښوي، په هغه ځایونو کې چې د سړک د یخبند کېدلو خطرې وي لازم مخنیوی وکړي، د سترو ځنګلونو په کرهنه او ساتنه کې ځانګړې پاملرنه وکړي، په شرکتونو او د معدونو په استخراج کې او داسې نورو صنعتي بټیو کې د سون په موادو ځانګړې څارنې تر سره کړي؛ ترڅو مواد په غیر استندرد توګه استعمال نشي.



# د اقليم بدلون

د اقليمي بدلون ستونزه يو نړيوال ناورين دی، چې ټوله دنيا ورسره لاس او ګريوان ده او په دې باندې خواري کوي چې څنګه نړۍ له دې نه جبرانيدونکي ناورين څخه وباسي، چې د کمزوري اقتصادي حالت لرونکي هيوادونه د پرمختلليو هيوادونو په پرتله زيات ورسره مخامخ دي. پکار ده چې انسان په وګړيزه، ټولنيزه او نړيواله کچه ياد ناورين، لاملونه او اغېزې يې و پېژني؛ ترڅو تر يو حده پورې په خپله هڅه کې بريالي شي.

## اقليم څه شی ده؟

اقليم له ځمکې څخه د ټاکلو ځانګړتياو لرونکي يوې ټوټې ته ويل کېږي، چې په دې ځانګړتياو سره يې له نورو ټوټو سره توپير کېدی شي. اقليم کله د يوې سيمې اوبو او هوا ته په کتو ټاکل کيږي، چې په دې حالت کې په سيمه باندې د حاکمې هوا او اوبو د ځانګړتياو پر بنسټ پېژندل کېږي او له نورو سيمو سره يې توپير کېږي. کله هم اقليم نباتاتو يا په عامه توګه طبيعي مواصفاتو ته په کتو سره ټاکل کېږي. په دې معنی، چې کله په يوه سيمه کې مختلف طبيعي عناصر لکه جغرافيايي موقعيت، ځمکه، هوا، اوبه، خاوره او نباتات سره تجانس وکړي او له نورو سيمو سره توپير ورکړي اقليم بلل کېږي.

نو ځکه ويلی شو، چې اقليم د ځمکې پر مخ يوه ټوټه ده چې بشري، طبيعي او اقتصادي ځانګړتياو ته په کتو سره له نورو سيمو څخه جلا کيږي.

او د سياستوالو په اند اقليم له ځمکې څخه يو ټاکلي او پولې لرونکی جغرافيايي مساحت دی، چې د يوه دولت جغرافيايي کرښې ټاکي.



## د اقليم بدلون او عوامل يې څه شی دی؟

ددې مقصد له اوږدې مودې څخه را پاتې د حرارت په درجه او د اوبو او هوا په څرنګوالي کې تحول دی، چې کېدی شي دا تحولات طبيعي وي، ځکه ډيری پوهان په دې باور دي، چې د لمر د تودوخې لوړېدل، د وچکالی زياتيدل، د بحر د اوبو د سطحې لوړوالی، سيلابونه، سخت بادونه او بې موسمه بارانونه د اقليمي بدلون له عمده اسبابو څخه ګڼل کيږي.

خو له نولسمې پېړۍ را پدې خوا بشري کړنې د اقليم د بدلون ستر سبب ګرځېدلی، چې په بنسټيزه توګه د سکرو ډېرو، ګازونو او نفتو له سون سره تړاو لري. او په ښاري سيمو کې د چاپېريال ککړتيا هم کولای شي تر يوې اندازې اقليمي بدلون را منځته کړي.

## د اقليمي بدلون اغېزې:

ياد طبيعي عناصر او يا هم بشري کړنې په لوړه کچه د اقليم په اوسيدونکو باندې اغېزه کوي، د هغوی مختلف فعاليتونه او ځانګړتياوې محدودوي، چې په دې سره يې د ژوند اړتياوې او د پرمختګ کچه هم محدودېږي.

اقليمي بدلون تل په نړۍ او په خاصه توګه په افغانستان کې بې ساري ستونزې زېږولې، چې نه يوازې ژوند، بلکې د ژوند ټول اړخونه





(انساني، روغتيايي، کرنيز، اقتصادي، امنيتي، ټولنيز او نور....) ننګولي او د طبيعي منابعو مديريت ترڅنګ يې د حيواناتو ژوند هم له ګواښ سره مخامخ کړی. د اقليم له بدلون سره اوبو ته په لاسرسي کې بدلون راځي او لوړه تودوښه په هغو سيمو کې چې د اوبو له کمښت سره مخ دي د اوبو نشتوالی را منځته کوي، چې دا په خپله د وچکالی سبب کېدی شي، چې دا بيا په کرهنه باندې نيغ په نيغه اغېزه لري، چې دا بيا په محصولاتو باندې اغېزه لري، په دې سره د غذايي موادو بيه لوړېږي، فقيران او بې وسې خلک له غذايي موادو څخه محرومېږي، چې کېدی شي ستونزې د ژوند له اوږدو سره اوږدې شي، د ژوند لارې چارې پرې خرابيږي، کډوالی او شخړې را منځته کېږي، د ماشومانو او نوي ځوانانو وده په ټپه درېږي چې دا په سيمه ييز نظم باندې اغېزه لري.

## څنګه کولی شو چې د اقليمي بدلون له اغېزو په امن شو؟

کېدی شي د ټولنې وګړي ځينې بسيط او ساده کړنې تر سره کړي لکه د ونو او بوټو کرهنه او ساتنه په ځانګړې توګه د خپل کور په چاپېر او انګر کې؛ ترڅو د کور او چاپېر هوا سړه او صفا شي. د خپل د کور د سپتيک څاه په ستندرد معيار جوړه کړي؛ ترڅو د ځښاک اوبه ککړې او بد بويه نشي، په ژمي کې د سکارو نه تصفيه شوې ډېرې د سون د مواد په څېر استعمال نکړي او که د تجارت او ستر کارو بار خاوند ياست د اقليم د بدلون له امله احتمالي مخاطرو مخنيوی وکړئ، لږ تر لږه کله چې هوا ډېره ګرمه يا سړه شي د خپل په کار کوونکو باندې پام ساتئ، چې په نا مناسبه هوا کې کار کوولو ته اړ نشي.

پکار ده چې ټول په درايت او هوښيارتيا سره په خپله سيمه او هستوګنځای کې د اقليمي بدلون طبيعي پيښو په مخنيوي کې برخمن شو. دا په دې معنی، چې له پېښې څخه رومبی هغې ته په ځواب ويلو کې چمتو اوسو او تر ممکن حد پورې داسې مصيبت ځپلو ته هر کله او په هر ځای کې د مرستې لاس وړاندې کړو.